# پوښتنې او ځوابونه: د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام

## د افغان ځانګړي مهاجرت ویزې (SIV) لرونکي.

### د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام څه ده؟

د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام وړ پیرودونکو ته تر **90** ورځو پورې د بیا میشتیدنې خدمات آنلاین وړاندې کوي. غوښتن لیک ورکوونکي د تلیفون، بریښنالیک، متن او ویډیو زنګونو له لارې د قضیې کارکونکي لخوا ملاتړ کیږي، او غوښتونکي سره مرسته کیږي چې په نوې ټولنه کې مدغم شي.
مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کې د ګډون لپاره دوه لارې شتون لري. دا پاڼه د افغانستان د ځانګړي مهاجرت ویزې **(SIV)** لرونکو لپاره عمومي معلومات چمتو کوي چې یوازې سفر کوي. که **USRAP** د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام په اړه تاسو یا کوم خپلوان سره اړیکه ونیسي او قضیه د متحده ایالاتو څخه بهر موقعیت ولري، مهرباني وکړئ د بهرنیانو پوښتنې او ځوابونه وګورئ.

### څوک د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام لپاره وړ دی؟

- د ځانګړي مهاجرت ویزې یا اس آې وی لرونکي: وړ دي که دوی پخپله ملاتړ کوي او د آی  او ام ملاتړ څخه خپلواکه راځي، او مور ته په شخصي توګه "واک ان" وکی . اوس مهال، د مجازی بیا میشتیدنې خدمتونه د اس آی وی لپاره یوازینی لار ده چې په شخصی کې راشي.
- د افغان بشردوستانه ویزې یا اَچ آی پي لرونکي: که دوی د **2022** کال د سپټمبر له **30** وروسته داخل شوي وي او د بشردوستانه ویزې لرونکی میره، مور او پلار یا ماشوم چې د **31** جولای، **2021** او د **2023** د سپټمبر تر **30** پورې داخل شوي وي مستحق دي.

### د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کوم ډول خدمات وړاندې کوي؟

د مجازی انفرادي کیس مدیریت:

- د لومړنیو/عمومي امتیازاتو لپاره د غوښتن لیک په ورکولو او د روغتیایي معایناتو مهالویش کې مرسته.
- په ښوونځي کې د وړ ماشومانو په شاملولو کې مرسته .
- د کارموندنې پروګرامونو، د انګلیسي ژبې ټولګیو او د کډوالۍ خدماتو لپاره لارښود.
- سیمه ایزو سرچینو ته د لاسرسي او کلتوري ادغام کې مرسته.

مالي مرسته:

- د کورنۍ هر لوی غړی د لومړیتوب اړتیاو لپاره د کارولو لپاره د مالي مرستې ډیبیټ کارت ترلاسه کوي.
- د ماشومانو لګښت/پیسې د والدینو د مالي کارتونو ترمنځ ویشل کیږي.

نورې مرستې:

- د **RE-11** ثبتولو بشپړولو او د ټاکل شوي خدماتو راجستر کولو لپاره لارښود.
- د تجربه لرونکي کیس منیجر سره لږترلږه دوه مجازی غونډو له لارې خوندیتوب او روغتیا لارښود د خوندیتوب او هوساینې اندیښنو ته د رسیدو لپاره.

Last updated October 2024 - Pashto

## کوم خدمتونه د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام کې نه وړاندې کیږي؟

- **کور او د کور د توکو چمتو کول په برنامه کې شامل ندي.**
- د مجازی بیا میشتیدنې پروګرام؛ په حضوری خدماتو کې د کیس مدیریت شامل نه دی.

## آیا زه کولی شم چې خپل حضوری برنامه مجازی ته بدل کړم؟

نه، یوځل چې تاسو د یو پروګرام خدماتو ته لاسرسی وموموئ، تاسو د بل لپاره وړ نه یاست.

## زه څنګه د دې پروګرام لخوا ورکړل شوي مالي مرستې/نغدي ترلاسه کولی شم؟

په برنامه کې د شامليدو وروسته ، تاسو به په قضيه کې شامل شوي هر کس يو مالي ډيبيټ کارت ترلاسه کړئ. کارت به تاسو ته د بریښنالیک له لارې لیږل کیږي، د فعالولو او کارولو لارښوونې په دري، پښتو او انګلیسي ژبو چمتو شوي.

## هغه خدمتونه چې زه به يې ترلاسه کړم، ايا دا د حضوری کيس خدماتو ته ورته دی؟

نه، د مجازی بیا میشتیدنې خدمتونه د کیس مدیریت نیمه خپلواکه برنامه ده. ستاسو مجازی کیس ورکړ به د بیا میشتیدنې دمخه خدماتو ته د لاسرسي په اړه معلومات چمتو کړي. مګر کور د کور توکي یا د ترانسپورت وسیله نه ورکوي. پرځای یې، ستاسو د مجازی کیس ورکړ لارښوونې سره، تاسو به د خپل نوې ښار او ژوند په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړئ.

## استثناوې: ایا داسې شرایط شتون لري چې زه کولی شم د مجازی خدماتو پرځای شخصي خدمات ترلاسه کړم؟

هو، هغه افغانان چې **SIV** لری باید حضوری مراجعه وکړي نه مجازی خدمتونه که:

په کورنۍ کې یو ماشوم ولري چې د خپل بیولوژیکي والدینو پرته متحده ایالاتو ته سفر کړی وي؛
یا
د قضیې کوم غړی جدي روغتیایی ستونزه لري.

## زه څنګه کولی شم د بیا میشتیدنې مجازی پروګرام کې راجستر کړم او د دې خدماتو څخه ګټه واخلم؟

- د **VR&P** سره د تماس لپاره د غوښتونکي لپاره دري لارې شتون لري (آنلاین، بریښنالیک او تلیفون). آنلاین غوښتنلیکونه به د ارزونې او وړتیا لپاره مهالویش کولو ترتیبولو ګړندۍ لاره وي. غوښتونکی باید د ځواب لپاره دري کاري ورځې ورکړي.
- آنلاین (سپاربښتنه): **https://bit.ly/vrp-screen-me**
خپل غوښتنلیک آنلاین وسپارئ. د رسیدلو وروسته، **IRC** به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د وړتیا ارزونې مهالویش وکړي.
- بریښنالیک: **Virtual.RP@rescue.org**
که تاسو موږ سره د بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ، نو تاسو به د یو اتوماتیک ځواب پیغام ترلاسه کړئ چې ستاسو د ارزونې دمخه فورمې سره لینک وي. د فورمې ډکولو وروسته، **IRC** به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د وړتیا ارزونې مهالویش وکړي.
- تلیفون: 2748-733 (201) 1 +
که تاسو نشئ کولی خپل غوښتنلیک آنلاین وسپارئ یا بریښنالیک واستوئ، مهرباني وکړئ موږ سره اړیکه ونیسئ. ډیری زنګونه په ژوندۍ توګه ځواب نه ورکول کیږي. د خپل نوم، تلیفون شمیرې او د رسیدو نیټې سره یو پیغام پریږدئ. تاسو به ستاسو د ارزونې دمخه فارم ته د لینک سره د اتوماتیک ځواب پیغام ترلاسه کړئ. د فورمې ډکولو وروسته، **IRC** به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د وړتیا ارزونې مهالویش وکړي.

## ایا تاسو په متحده ایالاتو کې له 90 ورځو څخه ډیر یاست؟

د VR&P پروګرام د 90 ورځو د نوم لیکنې دورې څخه هاخوا د هرې مرستې لپاره، کډوال، اس آی وی، او ای اچ پی کولی شي د مجازی بیا میشتیدنې لاین (VRL) سره په VRL@rescue.org یا 010-5513 (212) 1+ زنګ سره اړیکه ونیسي.

**https://signpost-virtual-services.zendesk.com/hc/en-us**